# د پښتو ژبې اوازونو او غږونو لنډه جائزه

# A Brief Review of the Phonetic and Phonological Sounds of Pashto Language

Dr. Ayat Ullah Khan Wazir[1]

ayatullah@icp.edu.pk

Dr. Noor Muhammad Danish Bettani[2]

danish.bettani@uop.edu.pk

Issn 2304-1463

**Abstract:**

Pashto has a rich and systematic sound structure. The sounds of Pashto are divided into four main categories: Vowels, Consonants, Semi vowels And Dipthongs: Vowels are produced without obstruction of airflows, while consonants are produced with partial or complete obstruction. Pashto vowels include short, longs and a central vowel, which play an important role in meaning distinction. Pashto consonants include voiced and vocals sounds, as well as aspirated and unaspirated forms. These sounds help formwords and distinguish meaning in Pashto, making the sound system an essential part of the language.

**Key words:** Language, Vowels, Consonant, Sounds, Pashto, Semi vowels and Diphthongs

ژبه د انسان په اعضاؤ کښې هغه فطرتي عضو ده چې تر دې دمه د نړۍ یو کس هم د دې حقیقت سره په بنیادي توګه نه دی اشنا شوی او جالب ګمان دی ځوک به ورسره اشنا شي- البته د واضحه ده چې په ګړده نړۍ کښې ځومره ژبې وئیلي شي او کومه ژبه ځومره معیاري ده- میرا جان غوربندي ژبه د فکر انتقال وسیله ګڼي:

---

[1] Lecturer Department of Pashto Islamia college Peshawar

[2] Assistant professor Pashto academy university of Peshawar

ژبه انسان ته د مجرد تفکر زمینه برابروي او له تعمیم سره یې مرسته کوي. که څه هم ژبه د فکر د انتقال وسیله ده، خو د دې مانا دا نه ده، چې ژبه او فکر دې دواړه سره یو شی وي. ژبه له فکر څخه یوه نسبي خپلواکي لري او ځانته جلاقوانین او اصول لري، چې فکر له هغه سره څرګند توپیر لري **(1).**

مهمه دا نه ده چې فکر او ژبه مماثلت لري او څومره ئې لري . ځکه فکر یعني دماغ د وجود هغه عضو ده چې یو ژبه نه بلکې د ټول انساني سیستم کنټرول کوي.

پاتې شول اوازونه چې د هرې ژبې اساس وي. او د نړۍ چې څومره ژبې دي په خپلو خاندانو کښې وېشلې شوې دي. په دې سبب د یوه خاندان سره تعلق لرونکیو ژبو د اوازونو په مماثلت کښې توپیر ډېر کم په نظر راځي. البته د خپلوۍ درجه ئې یو شانتې هم نه ده:

د نړۍ د ژبو وېش او په ژبنیو کورنیو پورې د هغوی تړل څه اسانه کار نه دی. هغه ژبې چې ژبپوهانو په مختلفو ژبنیو کورنیو پورې اړوندې بللې دي، په اصل کې له یوې خاندان څخه منځ ته راغلي دي، خو دا باید ووایو چې په یوه ژبنۍ کورنۍ کې د ننه د ژبو تر منځ د خپلوۍ درجه یو شان نه ده او توپیر په کې لیدل کېږي **(2) .**

نو په دې سبب ئې ژبپوهان وخت په وخت د یوې بلې ژبې خپله کښې موازنه کوي- البته دلته د پښتو ژبې چرته د بلې ژبې سره موازنه خو نه کېږي. زه غواړم چې دلته د پښتو ژبې په ځانګړي اوازونو او د هغوي نه جوړېدونکي غږونو باندې لنډه شانتې تبصره وکړم- خدای دې وکړي چې څوک استفاده ترې واخلي-

## آوازونه او غږونه **(Phonetics and Phonemics)**

فونیمیک یا فونولوجي چې ماخذ ئې فونیټیک دی .آوازونه هغه حروفونو ته وئیلے کېږي چې زمونږ روزمره خبرې اترې ترې جوړېږي، مولا جان تنیوال د فونولوجي په حقله وائي :

فونولوژي د ژبپوهنې هغه برخه ده یا ستره څانګه ده، چې د یوې ژبې ارزښتناک غږونه تر مطالعې او څېړنې لاندې نیسي . داسې هم ویل شوي دي چې فونولوژي د ژبپوهنې هغه ډسپلین دی، چې د یوې ژبې د اوازونو دندې څېړي (3) .

آوازونه په دوو برخو وېشلي شوي دي چې وړومبنۍ برخه ئې په خپله دغه آواز دے او دويمه برخه ته ئې غږ وئيلے کېږي.

## آوازونه (Phonemes)

اوازونه د هرې يوې ژبې هغه بنيادي ډهانچه وي چې دې نه بغېر د ژبې ساخت نيمګړی وي- اړينه ده چې د نړۍ څومره ژبې دي هرې يوې په خپل شکل وصورت کښې اوازونه ورته ټاکلي دي- که هر څو يوه ژبه په مخصوص شکل کښې اواز مخې ته راوړي البته په وېنا کښې ئې د نورو ژبو سره تغيرات ډېر کم وي- دغه وېنا محمود مرهون هم کړې ده:

د نړۍ د ټولو ژبو آوازونه مشترک دي. انسانان په ټوله نړۍ کي يو ډول انسانان دي او د آوازونو مخرجونه يې يو ډول دي. آوازونه په مجموعي ټوګه پر دوه ډوله وېشل کېږي چي يو ډول ته يې زنځيري آوازونه وايي (4) .

دغه شانتې د نړۍ ژبې په اتو لويو برخو وېشلې شوي دي چې په هغه کښې اسکيمو، ترکي، جارجائي، عربي، چيني، يوناني، ساموائي، سوبوجه شاملې دي- چونکې پښتو يوه اريائي ژبه ده .دې په حواله د مولا جان تنيوال وينا به مخې ته راوړم:

پښتو ژبه چې د ناسمو څېړنو او بې بنسټه څرګندونو له مخې په بېلابېلو ژبو او ژبنيو کورنيو پورې اړونده ژبه ګڼل شوې ، د پوهانو د ژورو علمي څېړنو په اساس دا جوته شوې ده چې دا ژبه يوه زړه لرغونې اريايي ژبه ده، چې يو اځې او يو اځې د اندو ارو پايي ژبو په کورنۍ پورې اړه لري او داسې زاړه اريايي اصيل لغتونه يې ساتلي دي، چې په نورو ډېرو اريايي ژبو کې پّ اساسنۍ سره نه شي موندل کېداى (5) .

نو که چرته مونږ ئې د اوازونو موازانه د نورو اريائي ژبو سره ختی چې د سامي ژبې سره وکړو نو دغه توپير به ډېر کم په نظر مخې ته راشي- مثلن په انګرېزۍ کښې اې (A) په پښتو کښې الف په عربۍ کښې الف په اردو کښې الف دغه درېوؤ واړو اوازونه باندې که غور وکړی شي نو د يو بل سره هېڅ تغيرات نه لري البته د ژبې ګروه بدلې دي- انګريزي او پښتو دواړه اريائي ژبې دي او

عربي د سامي ژبې سره علاقه لري- لنډه اوږده دا چې پښتو خپل څلور څلوېښت اوازونه لري چې په دې کښې ئې زيات تره د عربۍ ژبې نه يو درې د هندۍ نه او څلور اوازونه ئې د فارسۍ نه خپل کړي دي باقي د پښتو ژبې خپل ځانګړي اوازونه دي چې دې ته عاريت وائي .اندش دراني عاريت په حوالې سره ليکي:

عاريت په معنی د قرض اخستلو دی، خو په ژبني اصطلاح کښې د عاريت مطلب لفظونه قرضول او پورول دي .په هره ژبه کښې دوه قسمه عناصر دي .يو هغه کوم چې د خپلې اصلي ژبې نه اخذ وي او دويم هغه کوم چې موروثي ميراث نه وي، بلکې د چا بلې ژبې نه اخيستی شوي وي د بلې ژبې نه دلفظونه اخيستلو دغه عمل ته عاريت يا Borrowingوائي(6) :.

عاريت نه بغېر د ژبې تګ ممکن نه دی .او دا خبره مونږ وړاندې کړې ده نوپه تفصيل سره تګ به مناسب نه وي- ځکه چې د دغو آوازونو په لوستنه کښې د پښتو محصلينو ته هېڅ دهيکت نه شته-

اوازونه يا خو يو بل سره تړلي وي.لکه چې وړاندې ئې وښنا وشوه او هغه ته زنځيري آوازونه وائي . بيا دغه اواز نه شي پاتې بلکې يو معنيز توری ترې جوړ شي چې ورته غږ وئيلی کېږي. محمد اکرم ملکزي د غږ په حقله ليکي:

په يوه جرمني- پښتو قاموس کې د فونيټيک په باره کې ويل شوي دي، چې :فونيټيک غږ پوهنې، د ژبې غږ پوهنې او علم الاصوات ته وائي .؛ (7)

د غږ اساس اواز دی د اواز نه بغېر غږ نه جوړېږي او چې جوړېدی نه شي بيا ادا کولو خو څه جواز هم نه شته .په دې سبب وړومبی اواز مخې ته راځي نو په کار ده چې د بنياد نه خبر شو.

په حرف عام کښې ورته حرف، اواز يا فونيم وائي. هغه که د يا انسان د خولې نه راوځي او يا د اجسامو له ټکراو نه مينځ ته راشي چې مونږ او تاسو ئې په ورځنۍ ژوند کښې د اواز په نامه پېژنو.په ژبپوهنه کښې اواز د تشريحي ژبپوهنې تر ټولو مهمه برخه ده چې ورته اواز پوهنه وائي . د اواز پوهنې په حقله د ميرا جان غوربندي مناسبه وينا څه په دې ډول ده:

آواز پوهنه (فونیټکس:)د تشریحي ژبپوهنې یوه مهمه برخه ده، چې په هغه کې د یوې ژبې د ټولو (خپلواک، ناخپلواک، نیمواک )آوازونو جوړښت غړیزو غړو په واسطه د هغوی تولید تر مطالعې او څېړنې لاندې نیول کېږي .همدا رنګه په آواز پوخنه کې د ځینو نورو ژبنیو توکو لکه څپه، فشار ، آهنګ ، پیلتون، پیوستون او داسې نورو ژبنیو عناصرو جوړښت او خصوصیات تر مطالعې او څېړنې لاندې نیول کېږي (8) .

دغه آوازونه معنوي توپیر پیدا کوي بیا په فونیم (غږ) باندې بېلېږي. د مثال په توګه : د نور په کلمه کښې /ن/ ،/و/ او /ر / آوازونه دي. په دې کښې دا /ن/آواز که په /ک/ باندې بدل شي نو دا کلمه به په کور بدله شي ، یعنے په معنے کښې یې بدلون راغے، او دغه بدلون ته مانیز بدلون وائیلے کېږي چې د غږ په نوم یې یادونه کېږي.

هر هغه څوک چې په آوازونو او غږونو ځان پوهول غواړي د هغوي له پاره وړومبنۍ د فونولوجي، فونټیکس او فونیم تعارف او څېړنه کول ضروري دي، ځکه چې دغو درېواړو کلمو د پېژندګلوي نه بغېر په آواز او غږ باندې پوهه لرل ګران کار دے نو وړومبنۍ پکار ده چې دلته د فونولوجي، فونټیکس او فونیم تعارف او پېژندګلوي وشي.

فونولوجي (Phonology) یا آوازپوهنه:
فونولوجي څه ته وائي؟
په آوازونو او غږونو کښې یې څومره اهمیت دے؟
د دې نورې برخې کومې کومې دي؟

د اوازونو پوهنه، د اوازونو زده کړې ته اواز پوهنه یا فونولوجي وئیلے کېږي چې اسان شانتې تعریف یې داسې هم کولے شو – چې د یوې ژبې د اوازونو او غږونو بېلابېلو څېړنې ته فونولوجي وئیلې کېږي .

په ویکیپیډیا کښې د فونولوجي په حوالې سره په دې ډول لیکلي شوي دي:

Phonology is a branch of linguistic which studies how languages group sound together. It is primarily concerned with the systematic organization of sounds in spoken languages and signs in sign languages. At one time it only related to the study of systems of phonemes in spoken languages. (9)

ترجمه: ''فونولوجي د ژبپوهنې يوه څانګه ده چې په دې کښې د ژبو د آوازونو يو بل سره په ګروپ صورت کښې مطالعه کېږي. په بنيادي توګه د دې تعلق د ژبو آوازونه منظم کول يا يې د علاماتو او اشارو سره هم کېږي. او بل په يو وخت کښې د ژبو د يوې برخې لکه صرف د فونيم مطالعې سره تعلق لرلې شي.''

مولا جان تنيوال د فونولوجي تعارف په دې ډول کړی دی .هغه ليکي:

د ځينو پوهانو په اند فونولوژي د ژبپوهنې هغه برخه يا ستره څانګه ده، چې د يوې ژبې ارزښتناک غږونه تر مطالعې لاندې نيسي، داسې هم ويل شوي دي، چې فونولوژي د ژبپوهنې هغه ډسپلين دی، چې د ي،ې ژبې د اوازونو دندې څېړي(10) .

لکه څنګه چې د هرې پيمانې خپله خپله يوه اکائي موجوده وي او د هغې اکائۍ په سبب د عناصرو پيمائش کېږي دغه شانتې د يوې ژبې اکائي آوازونه دي- د يوې ژبې بنياد د آوازونو نه کېښودلے شي، که چرته آوازونه نۀ وے نو غږونه به د کومه لوري پيدا شي د نړۍ هرې ژبې آوزونه په خپله کښې يکسانيت لري بس دغه وېش بيا د نړۍ قومونو کړے دے چې هر چا د خپل ضرورت مطابق آوازونه اخيستي دي او د غږونو جوړولو ضرورريات يې پرې پوره کړي- په پښتو ژبه کښې دغه آوازونه څلور څلوېښت (۴۴) دي هم دغه څلور څلوېښتو آوازونو د پښتو ژبې ضرورتونه پوره کړي دي- دلته يې د روړلو ضرورت نۀ پېښږي ځکه چې داسې به ډېر کم خلق وي چې د پښتوژبې آوازونو نه نابلده وي-

په آواز پوهنې (Phonology) باندې پوهه لرلو له پاره شايد چې په دې نه بل آسان تعارف وي- چې يوه ژبه باندې پوهه لرلو له پاره د هغې ژبې آوازونه او غږونه څېړل او تشريخ يې کول حد درجې ضروري دي يا په اسانو توريو کښې به دا اوويو چې د قواعدو هغه برخه چې په هغه کښې د آوازونو او غږونو په موضوع باندې بحث کېږي هغۀ ته آواز پوهنه يا فونولوجي وئيلے کېږي- ډاکټر خالد خان خټک خو بيا لږ نور هم وړاندې تللے دے هغۀ په خپل کتاب کښې صوتياتو ته د فونولوجي نوم ورکړے دے- هغه ليکي: ''چې صوتيات په انګرېزۍ ژبه کښې فونالوجي (Phonlogy) ته وائي. دا هغه علم دے چې په دې کښې د يوې ژبې د آوازونو په حوالې سره بحث کېږي. او دغه په دوو برخو کېږي-''

- علم آواز Phonetics
- علم صوتيا Phonemics (11)

آوازونه او غږونه که هر څو د یوې ژبې بنیادي اکایي ده خو چې تر څو د یوې ژبې حرفونه معلوم نۀ وي تر هغۀ پورې هغه ژبه په مستقل ډول په وجود کښې نشي راتلے نو ښکاره شوه چې په ټولو کښې اهم ضرورت د حرف دے- حرف که هر څو د قواعدو په زمره کښې اښودلے شوے دے خو د صوتیاتو اهم تړونکے هم دے. ځکه چې آواز هله پیدا کېږي کله چې حرف موجود وي. پښتو ژبه هم د حرفونه نه جوړه ده چې په نننیي وخت څلور څلوېښت (۴۴) حرفونه لري، په کښې بعضو ته خپلواک او بعضو ته بې واک حرفونه وئیلے کېږي ،او ځینې په کښې نیم واک حرفونه هم شته په تفصیل سره وینا به یې وړاندې راشي.پښتو جرنال ته لیکلي شوي یو ارټیکل کښې ډاکټر نصرالله جان وزیرحرف غږ ښودلے دے او د حرف په وجود کښې راتلو په حواله سره یې ډېره په زړۀ پورې وینا پورته کړې ده- هغه لیکي:

''په بنیادي توګه حرف خو هم غږ دے چې د شونډو، ستوني او خلق په بیله بیل ډول خوځولو (حرکاتو) له کبله په ډول لهجو اوړي، هر چې دغه غږونه په مختلف اشکالو کښې توضیح کړل شول نو حرف نو حرف په وجود کښې راغے.'' (12)

دې نه پس د صوتیاتو د وړومبنۍ برخې ته راځم چې هغۀ ته خج څېړنه یا فونټیکس وییلے کېږي.

ایا د فونټیکس څۀ ته وائي؟

په یوه ژبې کښې د دې څۀ کردار دے؟

په یوه ژبې کښې خو په شل ګوو یا سل ګونه لهجې کېدې شي ایا د ټولو یو برابر ده؟

دلته د فونټیکس په حوالې دغه درې سوالونه حل کول دي.

فونټیکس د یوې ژبې اساس وي چې په باندې ژبه خپل عمارت جوړه وي- په پښتو ژبې دغه اوازونه څلور څلوېښت دي- چې په دې کښې دوه درېشت بې واک اوازونه دي څلور په کښې خپل واک دي او درې په کښې ځانګړې یګانې دي-

## علم آواز یا فونېټکس:

فونټیکس ته د لسانیاتو چابۍ هم وئیلي کېږي- انساني خولې نه مختلف قسم آوازونه راوځي او د خولې نه راوتلي آوازونه چې کله د یو بل سره ملاوېږي بیا ژبه ترې جوړېږي- فونټیکس د لسانیاتو هغه برخه ده چې د ژبې پیدا کېدونکیو آوازنو مطالعه پکښې کېږي- په آسانه پښتو کښې به دا اوویو چې د آوازونو تشکیلول، آوازونه اداکول، د آوازونو ترسیل حتی چې د آوازونو مخرج او دغه شانتې نورې درجه بندۍ هم په دې برخه کښې کېږي- فونولوجي هم مونږ د دې قطار

نه نشو بیلاولې لنډ به دا اوویو چې فونولوجي او فونټیکس دواړه د ژبې هغه برخې دي چې د غږونو یا اوازونو څیړنه پکښې کېږي، البته په فونټیکس کښې هغه آوازونه راځي چې معنې ته ضرورت نۀ لري. د مثال په توګه: د څۀ شي د ماتېدو آواز ، د ابو آواز، د سیلۍ آواز او د اسې نور-

د فونټیکس کردار د یو ژبې له پاره مختض نۀ دے بلکه دا هغۀ آوازونه دي چې په ګړده نړۍ کښې یو شانتې دي کوم آوازونه د خوشحالۍ یا غم په وخت چې په پښتو کښې د خولې نه راوځي هغه شانتې آوازونه د نړۍ نورې ژبو نه راوځي.

ما چې کوم د فونټیکس په حوالې سره درېیم سوال مخې ته راوړې دے د هغۀ جواب هم دغه دے چې کومه وینا مونږ وړاندې وکړه.

فري وېکیپېډیا د فونټیکس په حوالې سره لیکلي دي:

**Phonetics** is a branch of linguistics that focuses on the production and classification of the world's speech sounds. The production of speech looks at the interaction of different vocal organs, for **example** the lips, tongue and teeth, to produce particular sounds. (13)

ترجمه: فونټیکس د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د نړۍ غږونو او آوازونو د پیدا کېدو په وخت یې ډلبندۍ کوي. د خبرو پیداوار د آواز د مختلفو اعضاء باهمي تعامل نه جوړېږي، چې په هغۀ شونډې، ژبه او غاښونه شامل دي، چې یو خاص قسم آواز ترې پیدا کېږي.

د آواز پوهنه تعارف که چرته په لنډو او آسانو لفظونو کښې بیانول وي نو هغه ټول غږونه یعني حروف چې څۀ نه څۀ آواز ترې راوځي خوا هغه بېواک توري دي یا خپل واک دي یا نیمواک دي او یا ډفتهانګ دي بلکې ټوله مورفالوجي او د آواز پوهنه ماتخته ده که چرته آواز پاتې نۀ شي نو دې سره تړلې یوه هم فونولوجي به سودمنده نۀ وي. وړومبنے آواز پوهنه ده هغۀ نه پس بیا د نورې برخې دي او هره یوه برخه په خپل ځائے خپل کار کوي څوک د توریو په جوړولو کښې او څوک د معنو په ورکولو کښې. آواز پوهنه په دې ځائے نۀ ختمېږي بلکې دغه بیا په دوو برخو وېشلې کېږي چې یوه برخه ته یې سماعتي آواز پوهنه او بله ته تولیدي (صاف تلفظي) آواز پوهنه وئیلې کېږي.

## سماعتي آواز پوهنه (Acoustic Phonetics)

د آواز پوهنه په دې برخه کښې د يو آواز سماعتي وزن او زور معلومېږي چې ايا دا آواز جګ دے، ټيټ دے او يا په وزن زور برابر دے. د آواز دې برابروالي يا ارزښت ته سماعتي آواز پوهنه والي شي او د آواز اروېدنه هم د صوتياتو نورو ترسيلو په ډول يوه تفصيلي شرح کېدلے شي. چې دا ويتا د پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزير د کتاب نه هم ثابتېږي هغه ليکي:

‘‘دا د ژبې د مطالعې هغه څانګه ده چې په کښې د ژبې د غړونو يا د صوتياتو د ادائيګۍ، د هغو ترسيل او د هغو د اورېدلو په مسائلو بحث کېږي. په صوتياتو کښې غړ، کولمه، خلق، خولۀ، پوزه، د غوږونو کل يا د مشينرۍ هم تفصيلي شرح کېدله شي ځکه چې دا د صوتونو ادا کولو او اروېدلو ذريعې دي.’’ (14)

چې کله غړونه د ليک په صورت کښې په امروزه ژوند کښې نۀ وو راغلي هله هم آوازونه موجود وو.

غړونه:

په فونولوجي کښې غړ د ټولو نه ورکوټې غړيز حرف يا عنصر ته وئيلے کېږي چې په خپله څۀ معنی نۀ لري خو د ترکيب يا د ډېرو حرفونو په يوځاے کيدو سره ئې معنی لرونکې کلمه جوړيږي-

د انسان هغه حصهّ د کوم ځاے نه چې آوازونه وجود اخلي يا پيدا کېږي هغۀ ته غړ وئيلے کېږي-

غړونه د فونټيکس له نظره هر هغه آواز چې د انسان د غړيز غړو په واسطه توليد او ادا کيږي هغه ته غړ ويل کېږي.

آوازونه غړونه په دوۀ لويو او په دوۀ وړوګروپونو وےشل کےږي:د چې دلته په تفصيل سره راوړل کېږي.

خپلواک اوازنه vowel

بېواک اوازونه consonant

دغه د اوازونو دوه لوے ګروپونه دي چې د يوې ژبې بيناد ګڼلے کېږي.

نيم خپلواک اوازونه semi vowels

غبرګ غږونه dipthongs

د هغه اوازونه دي چې د يوې ژبه برخه وي.دغو ټولو اوازونو بغېر د يوې ژبې وجود ممکن نۀ شي کېدے.په پښتو ژبه کښې دغو اوازونو ترتيب څۀ په دې ډول دے.

خپلواک اوازنه:

پښتو ژبه درې خپلواک اوازونه لري چې په دې ډول دي.

ا ، ه او بل ي

بې واک اوازونه:

په څلور څلوېښتو اوازونه کښې که پينځه يګانې ،ا،ه او و ترې اوباسې نو شپږ دېرش اوازونه پاتې کېږي چې دغه ټول بېواک اوازونه ګڼل کېږي-

نيم خپلواک اوازونه:

د الفاظو په سم ډول ادا کولو کښې د اعرابو ځانله برخه ده بعضې وخت د غږ په ادا کولو کښې مشکلات پېښېږي د يوې ژبې وګړي هغه په اعرابو سره د ادا کولو ممکن کوشش کوي- په پښتو ژبه کښې اعراب درې قسمه دي چې په دې ډول دي-

زور،زېر او پېښ يا پېش

غبرګ اوازونه:

بعضې وخت غړونه د نورو په نسبت لږ اوږده وئیلی کېږي چې دغه مسله په غبرګ اوازون و سره په اسانۍ سر ته را سېدلی شي- یا به مونږ دا اوویو چې هر کله په یو غږ کئې لکه د دوؤ خ پلواک اوازونه یو ځای کېدو هومره اواز محسو سېږي نو هغه به غبرګ اواز کارېدلی شي او دغه شانتې اوازونه په پښتو ژبه کښې دوه دي د مثال په توګه-

و او ی

د نړۍ چې څومره ژبې دي د اواز توپیرونه ئې په خپل مینځ کښې ډېر کم وي - د ژبو تغیرات په غږ ونو ، لغتنو او قواعدو سره مخې ته راځي چې په دې سبب د نړۍ ژبې وېشلې شوي دي - خو بیا ه م د ژبو چې کوم وېش شوی دی او هغه په مختلفو خاندانو تقسیم شوې دي چې هغه خاندانونه اته دي دیارلس دي یا شپږویشت دي - هغه ژبې په یو خاندان کښې راغلې دي چې د کومو مطابقت زیات دي - په دې سبب وګړېو ته هغه نورې ژبې زده کولو کښې ستونزه نه پېښېږي او ډېره زر ئې زده کولی شي-

# حوالې


1. غوربندي، میرا جان، د ژبپوهنې مبادي ، جهان دانش هېرندویه ټولنه، دوبې ۱۳۹۹، مخ: ۳

2. تڼیوال، مولا جان، پښتو ژبه او ژبپوهنه، د علوموا کېډمي، ۱۳۹۷ه-۔ ۲۰۱۸ء ،ص: ۱۶۹

3. هم دغه اثر،ص:۱۷۲

4. مرهون، محمود ، تاریخي ژبپوهنه، جهان دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۹ل، ص:۲۴۵

5. تڼیوال، مولا جان، پښتو ژبه او ژبپوهنه،ص: ۱۶۹

6. عطش دراني، ډاکټر، پاکستاني زبانون کا تقابلي مطالعه، Aiou اسلام اباد اشاعت اول ۲۰۰۴-م ، ص :۵۱

7. ملکزی، محمد اکرم، جرمني۔پښتو قاموس ، دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه، کابل چاپ، ۱۳۸۸ ل کال، ص :۵۸۵

8. غوربندي، میرا جان، د ژبپوهنې مبادي ، ص:۴۶

9. https://en.m.wikipedia.org > wiki

10. تڼیوال، مولا جان، پښتو ژبه او ژبپوهنه،ص: ۱۷۲

11. Khalid Khan Khattak, dr, Sindhi, Pashto Urdu ke lesani rawabet, Pashto academy Peshwar university, 2007,P: 146

12. -Pakhto, Pakhto academy Pekhawar, July- September 2010, P: 42

13. https://en.m.wikipedia.org > wiki

14. پروفېسر نصرالله جان وزیر، ډاکټر، ژبه او ژبپوهنه، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۲۰۱۸ء، ص: ۴۲-۴۳